# تمثال نګاري او سمندر یوسفزی

# Imagery and Samander Yousafzai's

Muhammad Roidar *

**Abstract:**

"Statue and the Sea: Samander Yousafzai's Artistic Expression" In the realm of literary discourse, new terms emerge with time, reflecting the ever-changing facets of life. This paper explores the significance of artistic expression in the transformation of language and literature. It delves into the intersection of literature and life, where literature acts as a translator of life's changes. This study focuses on the stylistic elements, particularly the use of imagery, in literature. Stylistically, the term 'style' is not just confined to a writer's unique expression but extends to the transformation of themes over time. The paper explores the evolution of literary styles, drawing parallels between Greek 'Stylus' and Latin 'Stylus,' suggesting a universal connection in the art of expression. Style is not only about introducing new technical terms but also about adopting new expressions from various fields. It involves adopting a unique method of presentation, not necessarily making a writer superior but distinctive. The paper emphasizes that literature, with its various stylistic elements, plays a crucial role in portraying the transformations in society and individual lives.The term "Tamsal Nigari" (Statue Imagery) is introduced and discussed in detail. "Tamsal" refers to the representation of abstract concepts, feelings, and thoughts through concrete images. The study delves into the nuances of "Tamsal Nigari" in Urdu and Pashto literature, highlighting its role as a distinctive literary expression. The paper also compares "Tamsal Nigari" with the broader term "Imagery" in English literature. While imagery encompasses a wide range of language usage to represent various experiences, "Tamsal Nigari" specifically focuses on creating vivid images and metaphors in literary works. The study explores the literary significance of "Tamsal Nigari" through discussions on its diverse forms and applications. In this research contributes to the understanding of the evolving literary landscape, emphasizing the importance of stylistic elements like

* Ph.D Scholor Pashto department Peshawar university

"Tamsal Nigari" in capturing the essence of life and societal changes. The paper encourages further exploration of such unique expressions that bridge the gap between literature and the dynamic nature of human existence.

**Key Words:** Tamsal Nigari, Samander Yousafzai, Imagery , Style, Image,

په ادبي نړۍ کښې د وخت سره سره نوي نوي اصطلاحات مخې ته راغلي دي . يعنې څنګه چې مونږ وايو ژوند د تغير نوم دے او ادب د ژوند ترجمان هم ګڼو نو بيا خامخا به د ژوند ددغې تغير سره ادب هم د تغير لاره خپلوي . هم دغه وجه ده چې ادب يواځې دا نه ګڼې چې په فکري توګه ئې د وخت د بدلون سره نوي نوي موضوعات ځان کښې ځاے کړي بلکې د فن سره علاقه لرونکي نوي نوي اصطلاحات ئې هم زېږولي دي . کوم چې په فني توګه د يو ليکوال دځانګړي اسلوب رغولو وسيله هم ګرځي .

د اسلوب نه مراد د يو ليکوال هغه ځانګړے طرز اظهار دے کوم چې هغه د نورو ليکوالو نه ممتاز کوي .[1] اسلوب لفظ د انګريزۍ د استائل (Style) مترادف ټکے دے کوم چې د يونانۍ د استېلائيلاز ( Stylus) او د لاطيني توري استېائيلس (Stylus ) هم معنې دے او په هندۍ کښې ورته شيلي وائي .[2]

اسلوب داسې نه ده ګڼې چې يو نوے ټکے دے بلکې په انګريزي ادب کښې خو د ډېر وخت راسې وجود لري . البته په اردو او پښتو کښې ئې د انګريزۍ په نسبت تصور دومره زوړ نۀ دے خو داسې هم نۀ شو وئيلے چې زمونږ پښتو ادب کښې دا يوه بېخي نوې اصطلاح ده . دغه رنګ د اسلوب تعلق يواځې د ادب پورې هم خاص نۀ دے بلکې دا زمونږ د عام ژوند هم يوه لويه حصه ده . لکه د يو انسان د خبرو اترو ځانګړے انداز هم کېدے شي د هغه د ناستې پاستې يا د يوې علاقې، ټولنې رسم و رواج هم انفراديت لرلے شي . خو په ادب کښې مونږ اسلوب د يو ليکوال، اديب ځانګړے طرز اظهار، طرز بيان، طرز تحرير او داسې نورو فکري او هئيتي ځانګړنو په معنو اخلو کومو کښې چې د نورو فني اصطلاحاتو سره سره د يو ليکوال تمثال نګاري هم مهم حثيت لري .

تمثال د مجرد او غېر مجرد څيزونو د تصوير سازۍ نوم دے . کوم چې د انګريزۍ ټکي Image ترجمه ده . او اردو ، پښتو کښې ئې هم مونږ په دغه معنو اخلو . خو پښتو کښې دا يوه بېخي نوې اصطلاح ده . په اردو ادب کښې که نوې نه ده خو ليکوالانو ورته دومره ډېره توجو هم نۀ ده کړې څومره چې ئې حق وو . هم دغه وجه ده چې ډېر خلق تمثال

نګاري او تمثیل نګاري دواړه په یو رنګه معنو کښې اخلي. که څو هم دواړه خپلو کښې دومره ډېر بېلګوت نۀ لري خو مونږ ئې په یوه معنا کښې هم نۀ شو اخستلے ولې چې د تمثیل نګارۍ تعلق د فن نه پورته د فکر سره دے او تمثال نګاري د فکر نۀ زیاته یوه فني اصطلاح ده کومه چې د محاکات سره نزدیکت لري. لکه فضل میر خټک په خپل کتاب "فضلیات" کښې د تمثال تعریف په دې ټکو کښې کړے دے:

" تمثال د انګرېزۍ لفظ Image ترجمه ده. د ابمېج یا تمثال نه مطلب هغه تصویر دے کوم چې د یو شاعر د الفاظو په ذریعه زمونږ په چشمِ تصور یا چشمِ خیال کښې وګرځي. محسوس اشیاء په داسې رنګ کښې پېش کول چې دهغې یو ښکلے تصویر زمونږ په تصور کښې چورلکونه وخوري، څه غټه خبره نه ده. اصل کمال دا دے چې مجردات، کېفیات او احساسات په داسې شکل و صورت کښې وړاندې کړې چې هغه مونږ ته داسې ښکاره شي لکه چې مونږ ئې وینو".[3]

د تمثال دا تعریف د اردو ژبې ډېرو لیکوالانو او پوهانود تمثیل نګارۍ په باب کښې کړے دے او دغه د مجرد څیزونو تصویر سازي تمثیل نګاري ګڼي. خو ددغه ټولو لیکوالانو د رائے احترام که څو هم په خپل ځاے دے خو په دې دواړو اصطلاحاتو باندې زمونږ مخې ته راغلي د منظر اعظمی، " *اردو میں تمثیل نگاری*" او د *عمران ازفر "نئی اردو نظم، نئی جہت (نظمیہ تمثال، فکری و نظری تناظر)*". کتابونه تر ټولو لوے اهمیت لري ولې چې دې دواړو کتابونو کښې په خصوصي توګه بحث په دې اصطلاحاتو شوے دے کومو کښې چې دا اصطلاحات په دغه معنو نۀ دي معرفي شوي کومې معنې چې د تمثال او تمثیل په مېنځ کښې افتراق ورکوي. ولې چې عمران ازفر د تمثال نګارۍ په حقله څومره هم د لیکوالانو تعریفونه رانقل کړي نو هغه ټولو کښې ترجیح هم دغه تعریف له ورکوي کوم کښې چې تمثال نګاري په دغه معنا معرفي شوے چې د مجرداتو، او مادي څیزونو تصویر سازي تمثال نګاري ده لکه یوه حواله ئې دا رنګه رانقل کړې ده.

"*تمثال کی سب سے زیادہ عمومی قسم ایک مرئی تصوے رہے*".[4]

خو د لیکوالانو د تعریفونو په رڼا کښې چې بیا کله خپله تمثال نګاري معرفي کوي نو

نه يواځې دا چې تشبيه، استعاره، محاکات، مجاز مرسل د تمثال نګارۍ عناصر ګڼي بلکې تمثيل ئې هم په کښې د يو رکن په حېث شامل کړے دے۔[5]

دغه رنګ منظر اعظمی چې په خپل کتاب "اردو میں تمثیل نگاری" کښې کوم تعريفونه راوړي او د هغې په ترڅ کښې ئې ترې بيا کومه نتيجه اخذ کړې نو د تمثيل ئې دغه تعريف نۀ دے کړے کوم چې يواځې دغه د مجرداتو څيزونو تصوير سازي ده بلکې هغه مرئي څيزونه په غېر مرئي شکل کښې او غېر مرئي څيزونه په مرئي صورت کښې پېش کول تمثيل نګاري ګڼي۔[6]

يعنې منظر اعظمی يواځې مجرد څيزونو له مجسم شکل ورکول تمثيل سازي نۀ ګڼي بلکې هغه دغه انساني واقعات يا د انساني کردارونو نمائيندګي د حيواناتو په ذريعه کولو ته هم تمثيل نګاري وائي ۔ بلکې د هغه په خيال تمثيل نګاري يو موضوعاتي څيز يا اصطلاح ده ولې چې هغه ترېولو زياته خبره د تمثيل نګارۍ په موضوعاتي اړخ کوي او ورسره ئې دغه د تمثيل پېژندګولو دا رنګه کړې چې تمثيل يو دوۀ معنې لرونکے څېز دے کوم چې ګڼ شمېر اړخونه او د دؤو نۀ سېوا معنوي سطحې هم لري۔[7]

ددې سره سره تمثال نګاري قدرې يوه اصطلاح نۀ ده بلکې دا د يو ادبي تحريک په شکل کښې په **1909**ء کښې رامخې ته راغلے چې دغه اولنے بېټک ئې د ايفل ټاور په يو ريسټورنټ کښې کړے وو او ددې تحريک د پاره ئې خپل قواعد و ضوابط وضع کولو سره سره د پرمختګ د پاره د عملي ګامونو پورته کولو عهد و وعيد هم کړے ؤ۔[8]

دغه رنګ په ډکشنري "The concise oxford Dictionary of literary terms"[9] او د انګريزۍ ژبې جرنل "The outlook journal of English studies" کښې د تمثال پېژندګلو هم د لږ ډېر لفظي بدلون سره هم په دغه ټکيو کښې شوې ده چې د مادي /غېرمادي څيزونو د لفظي تصوير سازۍ نوم تمثال نګاري ده۔[10] يا لکه بله يوه انګريزي ډکشنري ئې دغه پېژندګو څه دا رنګه کوي:

> "Imagery as a general term covers the use of lan- guage to represent objects¸ actions¸ feeling, thoughts, ideas, states of mind and any sensory or extra- sensory experience. An image does not necessarily mean a mental picture".[11]

يعنې ددې ټول بحث په رڼا کښې مونږ وئيلے شو چې تمثال نګاري يواځې د مجرد څيزونو

د تصویر سازۍ نوم نهٔ دے بلکې غیر مجرد څیزونه هم تمثالي صورت لرلے شي خو مجرد څیزونه په داسې ډول پېش کول چې زمونږ تر وړاندې لکه د یو لفظي تصویر مخې ته شي د تمثال نګارۍ لویه فن کاري ده ځکه به مونږ دلته دا هڅه کوو چې هغه تمثالونه وکاروو او نمونې ئې راوړو کوم کښې چې مجرد یعنې غیر محسوس څیزونه تصویر شوي وي۔

## د تمثال قسمونه:

داسې خو ادب پوهانو د تمثال ګڼ شمېر اقسام وضع کړي او په بېلو بېلو نامو ئې یاد کړي دي لکه څه داسې تمثالونه دي چې د حواس خمسه په بنیاد ئې ورله نومونه غوره کړي لکه بصري تمثال (Visual Image)، سماعي تمثال (Auditory Image)، لامساتي تمثال (Tactile Image) او داسې نور ۔او څه تمثالونو له ئې د علم بیان او بدیع وغیره د هغه توکو په بنیاد نامې ایخودې د کومو چې په کښې استعمال کېږي لکه تمثال اولی (Analogical Image)، ثانوي تمثال (Metaphorical image) ، تمثال ثالث (Symbolic Image)وغیره ۔ دغه رنګ یو څو نور مثالونه ئې هم داسې دي لکه، ساده تمثال، استغراقي تمثال ،تجریدي تمثال، اجتماعي تمثال،حرارتي تمثال، او داسې نور۔ خو دلته په دغه ټولو باندې بحث کول ممکن نهٔ دي ځکه د یو څو پېژندګلو ئې په لنډه ټکیو کښې دا رنګه کولے شو۔

❖ تمثال اولی (Analogical Image) :

کوم تمثال چې د تشبیه په مدد سره په وجود کښې راغلے وي هغې ته تمثال اولے وائي۔[12]

❖ ثانوي تمثال (Metaphorical image):

دا د هغه لفظي تصویر سازۍ نوم دے کوم چې د استعارو په مدد سره رغ شوے وي۔[13]

❖ تمثال ثالث (Symbolic Image):

تمثال ثالث د هغه تمثال سازۍ یا تمثال کارۍ نوم دے چې په کښې د علامتونو استعمال شوے وي۔[14]

❖ بصري تمثال (Visual Image):

دا هغه تمثال ته وائي کوم چې د لیدلو سره تعلق لري۔[15]یعنې دې تمثال له ئې د حواس خمسه په بنیاد نوم غوره کړے ۔ خو دې نه کله هم دا مطلب نهٔ دے ګڼې چې دا تمثال یا نور تمثالونه به د لیدلو، اورېدلو یا بویولو غونډې په نورو نامو یادولو سره خپله هغه

پېژندګلو ورکوي کومه چې ئې د مجرد څيزونو تصوير سازي ده بلکې ددغې مجرد څيزونو په مدد سره چې کوم لفظي تصويرونه رغ شوي وي هغې کښې بيا وروسته دغه اقسام لټولے شي چې کوم تمثال د کومې ډلې سره تعلق لري۔

❖ لامساتي تمثال (Tactile Image):

ددې ډلې کار دا وي چې د ګرمۍ، يخنۍ، تود، سوړ، په شان دداسې نورو کېفيتونو نشاندهي کوي۔[16]

❖ ذائقاتي يا ذوقي تمثال (Gustatory image)

ذائقاتي تمثال داسې اميج سازۍ ته وائي چې په کښې د څه ذائقې يعنې خوږ، تريخ، پيکه، په رنګ د نورو خوندونو ذکر شوے وي۔[17]

❖ شاماتي تمثال/ مشامي اميج (Olfactory Image):

شاماتي تمثال مونږ ته په يو اميج کښې د څه ښه يا بد، بوئې استعمال په ګوته کوي۔[18]

❖ سماعي تمثال (Auditory Image)

دا د هغه تمثال نوم دے کوم کښې چې د داسې څيزونه استعمال شوے وي د څه تعلق چې دا اورېدو سره وي۔[19]

## ● تمثال کار سمندر يوسفزے:

د سمندر يوسفزي خپل نوم قدر واحد دے چې ادبي دنيا کښې ئې ټول خلق هم په دغه نامه (سمندريوسفزے) پېژني يا داسې به اوويو چې د هغه خپله نامه قدري د سندي دستاويزاتو پورې محدوده پاتې شوې ۔ نور خلق څه چې د سمندر صېب اکثر طالب علمان هم د هغه ددغې نامې نه ناخبره وي۔

سمندر صېب د فرورۍ په اتمه (۸) نېټه نولس سوه اووه اتيا (۱۹۸۷ء) کښې د الـه ډنډ ډېرۍ په سبړې کلي کښې د ګل ذاهد کره زېږېدلے دے۔[20]

بناغلي خپل بنيادي تعليم د خپل کلي نه او لسم جماعت ئې د الـه ډهنډ ډېرۍ د هائي سکول نمبر ۲ نه کړے دے ۔دغه رنګ دولسم او څوارلسم دواړه ئې د ګورنمنټ کالج تانې نه او بيا ايم اے پښتو ئې په کال دوه زره لس (۲۰۱۰ء) کښې د پېښور پوهنتون نه پاس کړے چې په کښې ئې د سرو تمغه هم تر لاسه کړه ۔بيا روسته ئې دغه د سندي تعليم لړۍ په پښتو اديباتو کښې د ډاکټرۍ تر سند پورې غزولې ده ۔ ددې سره سره ئې په پوليټکل

سائنس کښې هم د ايم اے سند ترلاسه کړے دے.[21]

ښاغلے تر دې وخته پورې د څلورو کتابونو خالق دے چې په کښې دوهٔ د نثر کتابونه يعنې "بنيادي ژبپوهنه" او "خوشحال او سياسيات" او دوهٔ د شاعرۍ کتابونه "خيالونه چينارونه" او "د لونګو رشې" شامل دي.

د سمندر صيب پېژندګلو هم دغه د شاعرۍ په لار شوې ده او خلق ئې د يو شاعر په حېث پېژني. دغه تخليقونه ئې ځان کښې د ګڼ شمېر فکري اړخونو او فني ځانګړنو سره سره د تمثال نګارۍ هم يو شمېر مثالونه او قسمونه لري. که مونږ ئې د يو تمثال کار په حېث د فکري اړخونو جاج واخلو نو د هرې فکري ډلې مثالونه ئې په تخليقونو کښې موندلے کېږي. لکه دا لانديني تمثالونه ئې مونږ ته قامي رنګ په ګوته کوي:

راځـــي دې ســـمندره د همــــه پښــــتونخوا ښـــکلي
د مينـــې ټوکېـــدلي دي شرشــم زمـــا پــــه زړهٔ کښـــې[22]
مــا امــن پښــتونخوا ســتا پــه ســالو شــيندو پــه مينــه
ناترســـو نفرتونـــه چـــې د جنـــګ پـــه تـــا شـــيندل[23]

دلته که وړومبي شعر کښې دغه په خپل قام مئين سمندر د خپلو مينه ناکو سپېځلو جذباتو او احساساتو اظهار کوي نو دويم شعر کښې ورسره په خپله پښتنه خاوره د بد امنۍ، نفرتونو او جنګونو نه هم ناخبره نهٔ دے. که خپله دغه د امن مبلغ د پښتنې خاورې لمن د نفاق، کرکې، تربګنۍ څخه کوشش کوي چې پاکه اوساتي ولې هغه جنګ پرست کردارونه ئې هم له نظره نهٔ دي ورک کوم چې په پښتنه خاوره د بد امنۍ خورونه کوي. که چرته يو وخت کښې د هغه ترقي پسند سوچ مجبور کړے چې د ولېدلې طبقې دردونه او ستونزې دې سندره کړي:

ســـپېرې بـــلا د غربـــت څـــه کـــانې پـــه مـــونږه اوکـــړې
مـــونږ ماشـــومان قـــلاروۀ تـــل پـــه وهلـــو بانـــدې[24]

نو بل خوا د خپل وطن د هغه زلمو د تکليفونو او بدو ورځو احساس هم لري کوم چې د خپلو بچو د نهرې خېټې غم په سر هغستي وي لکه دې لاندې تمثال کښې ئې دغه ذکر دا رنګه کړے دے.

بلهـــا زلمـــي بلهـــا غمونـــه پـــه اوګـــو ګرځـــوي
پـه دې وطـن کښـې پـه روزګـار پسـې پـه ورکـه ګرځـي[25]

دغه رنګ که يو طرف ته دغه د خپل اولس د هرې طبقې د ژوند حالات ئې په نظر کښې دي. د هغوي معاشي ، سياسي، ثقافتي ټول اړخونه ئې مشاهده کړي. د رسم و رواج نه ئې باخبره دے. د مړانې ، ننګ او پت قيصې ئې بيانوي :

پـــه مـــا يـــوه ذره ګمـــان د بـــې ننګـــۍ مـــهٔ کـــوه
زهٔ خـــو د خلقـــو پـــه ذهنونـــو کښـــې هـــم ننـــګ کرمـــه[26]

نو بل طرف ته ئې د پښتون قام ناکامه ژوند هم په نظر کښې ساتلے دے. هغه که دغه د پښتنو د ناکامه ژوند يا د داسې ژوند سبب کوم چې د نورو قومونو سره سيال نهٔ دے دغه دهغوي خپل مېنځي جنګونه ګڼي. که د سياسي بصيرت کمے ئې محسوسوي او که دغه ناکامي ئې د خپلو وسائلو نه ناخابرتيا ګڼي . خو تر ټولو لويه وجه د هغه نظر کښې د پښتون قام هغه ذهنيت دے کوم چې هغه د مترقي فکرونو څخه منې کوي .ولې چې پښتانه وس هم د توهم پرستۍ ښکار دي .هغه ټولې ناکامۍ د خپل تقدير حصې ګڼي کومې چې ئې په تدبير سره د کاميابۍ وسيلې جوړېدے شوې. نو بيا داسې حال کښې که ارتقاء په پښتنو پسې خندا نهٔ کوي نو څهٔ به کوي:

ارتقـــا ء اودرېـــده مســـکۍ شـــوه وې ئـــې هـــۍ پښـــتانه
وړو لـــه هغســـې پـــه پښـــو پـــورې تارونـــه تـــړي[27]

ددغه غير مترقي فکر نه پس د پښتنو لويه د ناکمای ذريعه دغه په وړه خبره جنګونه دي. يعنې د پښتنو نسل کشۍ دپاره هم دغه يو لوئې خامار هم پوره دے چې په نامه د غيرت پېژندے شي .دغه رجحان پښتانه ټول عمر در په در کوي .هم دغه وجه ده که چرته د اسلام په نوم نور قوتونه د خپلو مفادو دپاره جنګ د پښتنو زمکې له راوړي نو دغه پښتانه ورته نه يوائې دا چې تود هرکلے کوي بلکې خپله په کښې هم لکه د يو فريق حصه دار کېږي. بيا کله چې سمندر صبب دغه د پت په نوم د پښتنو جنازېويني نو دا رنګه ګويا دے :

مـــا پـــه دې ښـــار کښـــې د پـــت دېـــرې جنـــازې وليـــدې
څکـــه خـــو اوس خپـــل انتخـــاب رابانـــدې ښـــهٔ نـــهٔ لګـــي[28]

دغه شان په خپله ټولنه کښې هغه عناصر هم غندي کوم چې د دوکه بازۍ په رنګ رنګ

وي۔ بې باوره وې او ژوند ئې په داسې بدرنګو رويو ککړ وي ۔ که دغه وعده خلافي يو اړخ ته د اسلامي تعليماتو نه مخ اړول دي نو بل اړخ ته د يوې بدې ټولنې رغونه هم کوي ۔ ځکه خو سمندر صيب دغه کردارونه دا ډول غندلي دي:

دلتـــه هغـــوي تـــل غورځـــوي د ګړنګونـــو خلـــق
دلتـــه چـې څـوک هـم د بـاور پـه رڼـا ځـان وينځـي[29]

يعنې سمندر صيب خپل ټول چاپېرچل مشاهده کړے دے ۔ بيا دغه مشاهدې چې د هغه په ذهن کښې کوم جذبات پېدا کړي هغې له ئې يو داسې لفظي صورت ورکړے چې د يوې تصويري ډهانچې زمونږ تر سترګو کېږي ۔ که چرته د هغه قامي فکرونه دي ، که سياسي نظريې دي، که معاشي ستونزې ئې بيان کړي که خپل اولس ته راپېښې کشالې شعر کوي او که چرته د خپل غمژن زړۀ دردونه ئې نغمه کړي خو د خپل فني مهارت په بدل ئې په داسې پيرايو کښې دا ټول څه ويشلي چې دغه ټول روايتي مضامينو ځانله نوي نوي خوندونه لرلي دي لکه دلته ئې يو څو عشقيه تمثالونه څه دا رنګه دي:

پـه شـر راپاسـي پـه شـر سـتړے شـي پـه شـر اوده شـي
سـتا ليـونے يـاد مـې رسـا د زړۀ پـه سـر اودۀ شـي[30]

سـتونه مـو پـه يـو بـل پسـې هغسـې مـات نـۀ دي
جذبـه د محبـت زمـونږ پـه زړونـو کښـې اوده شـوه[31]

عشـــق او عقـــل ســـره بيـــا مشـــت و ګريـــوان دي
ســـتا پـــه حقلـــه لېـــونۍ دواړه پـــه شـــر دي[32]

دلته وړومبي شعر کښې سمندر صيب د خپل داخلي درد اظهار دا رنګه کوي چې د خپل محبوب ياد له يو مجسم شکل ورکوي کوم چې د يو انساني صورت په څېر د شر او جنګ ماده هم لري او هر وخت دغه د محبوب ياد ښاغلے ځان سره مشت و ګريوان ګڼي۔ دغه رنګ دويم شعر کښې محبت هم يو مجرد څيز دے چې سمندر يوسفزے ئې دا رنګه بيانوي څه رنګه چې دغه خاصيت يو ذي روح څيز لري۔ يعنې د محبت جذبه په شان د حيوان، انسان ، اوده کېدل يو مجسم تصويري صورت دے۔ که دلته ترې د هغه غرض څو هم د

خپل محبوب په زړهٔ کښې د مینې جذبې مړې ګڼل دي او دغه خیال د هغه فکري اړخ ته اکي خو په فني توګه دا د تمثال نګارۍ یوه غوره نمونه هم ده. له دې شعر نه پس چې سمندر یوسفزے دریم شعر کښې کوم خیال بیان کړے هغه هم په فکري توګه دغه د عشقیه وارداتو ذکر دے خو عقل او عشق د یو بل سره مشت و ګرېوان کول نه یواځې دا چې تمثالي صورت لرلے بلکې دغه د لفظونو انتخاب د ښاغلي دې روایتي مضمون ته نوے رنګ او اهنګ هم بخښلے دے. دلته دا لاندې مثالونه ئې هم د دغه فکري اړخ نمائنده تمثالونه دي:

د زړګـــي دردہ نـــور مـــې مـــهٔ دردوه مـــهٔ غـــونزېږه
ددې حـــالاتو نـــه مـــې درد هســـې پـــه ســـر ډېـــر دے[33]

څړیکـــه پـــه زړهٔ مـــې لکـــه ډمـــه ټولـــه شـــپه ګډېـــده
ایلـــه اوده شـــوم چـــې هغـــه ســـحر تـــه پـــاتې نـــهٔ شـــوه[34]

د زړګي درد اوس دلته غونزېدل یو داسې عمل دے چې یو غېر مجسم څیز دا خاصیت نهٔ لري خو دلته سمندر صیب د یادونو دغه کېفیت دا رنګه تصویر کړے چې زمونږ تر وړاندې بیخي یو مجسم شکل لري. ورسره دویم شعر کښې څړیکه هم یو مجرد څیز دے چې ښاغلے ئې په داسې انداز کښې بیانوي لکه چې حقیقت کښې مونږ دغه د ډمې ګډېده وینو. دغه رنګ لاندې شعري تمثال کښې ئې "یقین" تورے دا رنګه تصویر کړے دے:

دا قامتونـــه څـــه چـــې غرونـــه ورتـــه هـــم هـــېڅ نـــهٔ دي
لکـــه د خـــال هغـــې پـــه ســـپین رخســـار شـــیندلے یقـــین[35]

یعنې "یقین" دلته په رخسار شیندل تمثالي صورت دے ولې ددې سره سره دا د تمثال اولیٰ (Analogical Image) هم یوه غوره نمونه ده کوم تمثال چې د تشبیهه په مدد سره په وجود کښې راځي څکه چې دلته ئې یقین له د خال سره تشبیهه ورکړې ده. د تمثال اولیٰ نه پس ئې په بل مثال کښې د تمثال ثانوي (Metaphorical image) نمونې دا ډول دي:

د نظـــــر تنـــــدر پربـــــوتے دې پـــــه مـــــا دے
زړهٔ مـــــې بیـــــا ســـــم لـــــه ماښـــــامه پـــــه درزا دے[36]

ستا د اوربل د هوا لړه چپه هم نه زغمي
زما د ژوند د ونې شنه ښاخونه زيړې پاڼې [37]

د تمثال ثانوي نه پس چې بل کوم د تمثال قسم دے هغې ته تمثال ثالث وائي . تمثال ثالث د تمثال ثانوي نه څو چونده سېوا معنوي ژوروالے لري ولې چې دا د علامت په ذريعه وجود مومي او علامت په معنوي حواله د استعارې يو وسيع ترين صورت ګڼلے کېږي. د کوم نه چې په ځانله ځانله دور او وخت کښې هر ليکوال ، لوستونکے او اورېدونکے د خپل ذهني استعداد مطابق معني اخذ کوي .لکه دلته سمندر يوسفزي دغه روايتي علامتونه " تياره " او " رڼا" دا رنګه تمثال کړي دي :

دا چې تيارې خوروي دا چې رڼاګانې وژنې
مخه ئې نيسو ځناورو ته څوک څه نۀ وائي [38]

" تياره" او "رڼا" دواړه توري ټول خلق هم په دغه يوه معنا استعمالوي يعنې تياره د جهالت او رڼا دعلم، پوهې د پاره . سمندر صېب هم دلته دغه د رڼا دښمنان په حبث د ځناورو معرفي کوي او غواړي چې دغه د تيارو خورونکو لارې بندې کړے شي.

د تمثال ددې درې واړو قسمونو نه پس چې نور کوم د تمثال قسمونه دي د هغې تقسيم د حواس خمسه په بنياد باندې شوے دے .يعنې کوم تمثال/ اميجري کښې چې د کوم حس نشاندهي کېږي هم هغه تمثال به مونږ هم د حسياتي تقسيم په هغه ډله کښې شمېرو لکه دلته د بصري (Visual Image) تمثال يوه نمونه ئې دا رنګه ده.

چې د نظر غبره دې تاؤ کړه له ما
ايله مې اوس زخمونو خولې ورکړلې [39]

د بصري تمثال نه مراد هغه تمثال دے کوم کښې چې د سترګو حس متحرک کېږي يعنې د لفظونو هغه تصوير چې په کښې مجرد څيزونو مجسم شکل لرلے وي او مونږ ئې داسې وينو لکه چې زمونږ له وړاندې هغه يو حقيقي صورت وي . لکه دلته دغه بيان شوي نمونه کښې "نظر" يو مجرد څيز دے خو يو داسې مجسم شکل ئې ورله ورکړے لکه حقيقت کښې چې زمونږ د سترګو وړاندې دغه " نظر"د تخليق کار له وجوده غبره تاؤ کړې وي. اوس دا تمثال ځکه مونږ په بصري تمثال کښې شمېرو ولې چې نظر داسې يو حس دے کوم چې د لېدلو سره تعلق لري.

د بصري تمثال نه پس د امجري بل قسم ته پوهانو د سماعي تمثال (Auditory Image) نوم غوره کړے دے چې لکه د نوم نه ئې څرګندېږي چې تعلق به ئې د هغه قسم سره وي چې په کښې د اورېدو حس متحرک کېږي. لکه دا تمثال ئې غوره نمونه ده:

د خاموشۍ په بلا ګانو مې نور مۀ ماتوه
یاره څه چل اوکړه قسم دے ماله خوب نۀ راځي[40]

دلته خاموشي هم دغه د اورېدود حس سره تعلق لري . یعنې خبرې نه کول، څه نه وئیل په معنا د خاموشۍ اغستلے کېږي . سمندر صېب هم دغه خاموشي د بلاګانو مانند ګرځوي او د خپلو شوګیرو وجه هم د هغه په نظر کښې د خپل محبوب خاموشي ده . چې له ګویا کولو په غرض خپل محبوب تر وړاندې په زارو او مینتونو دے . یا لکه په بل یو شعر کښې "خبرې" ټکے دا سې تمثال کوي کوم چې مونږ په ذائقاتي یا ذوقي تمثال ( Gustatory image) کښې هم شمېرلے شو:

چې ستا وي شونډې په رښتیا لکه شکرې خوږې
ځنګه به نۀ وي ستا وړې وړې خبرې خوږې[41]

لکه دلته که یو اړخ ته مونږ "خبرې" ټکے په دې وجه سماعي تمثال ګڼو چې خبرې د اورېدو یعنې د سماعي حس سره تعلق لري نو بل خوا دې تمثال کښې که سمندر صېب شونډو له د شکرو سره تشبیه ورکړې نو د محبوب د شونډو خبرې هم په دغه معنو کښې اخلي او لکه د شکرو ئې خوږې ګڼي . هم ددغې مشابهت سره دې تمثال کښې د ذائقې معلومولو حس هم په حرکت کښې راځي ځکه دا تمثال بل اړخ ته مونږ ذائقاتي/ذوقي تمثال هم ګڼلے شو. یا دې وړپسې شعر کښې خپلې سندرې خوږې ګڼل د ذائقاتي/ ذوقي تمثال یوه بله نمونه ده:

چې زۀ د زړۀ له لیوني درده ګویانه شمه
بیا خو به خامخا زۀ لیکمه سندرې خوږې[42]

د بناغلي سمندر دې غزل کښې نورې هم د ذائقاتي تمثال نمونې شتون لري خو دلته د ټولو مثالونه راوړل مناسب نۀ دي ځکه دغه بیان شوي مثالونه ئې د پاره د پېژندلو پوره دي
ددې سره سره د لامساتي تمثال(Tactile Image) هم ګڼ شمېر مثالونه د سمندر صېب په تخلیقونو کښې موجود دي خو قدرې دغه دوه مثالونه ئې زما په خیال د پېژنګلو دپاره کافي وي کوم چې مې دلته رانقل کړي:

مـــوده پـــس بـــه تـــا اوویـــنم پـــه خـــوب کښـــې خوبـــولې
د دړد ســـړیکه ایلـــه کـــه پـــه زخمونـــو کښـــې اوده شـــوه[43]

چـــې د نظـــر نرمـــه تـــوده غېـــږه راتـــاؤ کـــړې لـــه مـــا
بیـــا د لمحـــو پـــه حســـاب یـــاره څـــومره زر اوده یـــم [44]

لامساتي تمثال هم لکه د بیان شوؤ حسیاتي قسمونو په څېر د تمثال یو قسم دے چې ددې کار د ګرم ،یخ، نرم ، کلک، غرمه، سیورے، درد او د اسې نورو کېفیتونو نشاندهي کول وي .لکه دغه وړومبي شعر کښې "سړیکه" ټکے په مجسم صورت کښې بیان شوے کوم چې ددې قسم تمثال نمائنده مثال دے .یا دغه دویم شعر کښې "د نظر نرمه توده غېږه" راتاوهل که په تمثالي صورت کښې سمندر صېب د خپلو کېفیوتو اظهار کوي ولې دغه د لامساتي تمثال یو غوره مثال ئې هم تخلیق کړے دے.

دلامساتي تمثال نه پس بل یو قسم په حسیاتي تقسیم کښې شاماتي تمثال/ مشامي امیج (Olfactory Image) هم دے . شاماتي/ مشامي امیج د هغه تمثال نوم دے کوم کښې چې داسې اجزاء مجسم شکل ولري چې تعلق ئې د بوي کولو سره وي یعنې بد بوئې ، خوشبو وغېره . لکه دې لاندیني مثالونو کښې د "خوشبو" ټکي تمثالونه سمندر صېب څه دا ډول تصویر کړي دي:

د خوشـــبوګانو پـــه لوګـــو پســـې تارونـــه تـــړي
چـــې پـــه بوګـــه بوګـــه کمڅـــو پـــورې تارونـــه تـــړي[45]

پـــه مـــونږ ئـــې چرتـــه هـــم خوشـــبو راغوتـــه شـــوې نـــۀ ده
خـــو بوراګـــانو د ګلونـــو ســـینې وشـــلولې[46]

دلته سمندر صېب د خپل محبوب زلفې په څېر د خوشبوګانو د لوګو مانند ګرځوي . ولې خوشبو داسې یو څیز دے چې خپل څه وجود نۀ لري خو ښاغلے د خپل محبوب د زلفو ښائست دا رنګه لوړ ثابت کړے چې کله ئې خوشبوګانو ته د لوګو جامې اغوستې نو خوشبو بیا خپله یو تجسیمي صورت ګڼلے دے .دغه رنګ ورپسې شعر کښې ئې هم د خپل محبوب خوشبو په داسې انداز کښې پېش کړې ده لکه څنګه چې یو غېر مجرد څیز

دغه فعل کوي او دغه منظر زمونږ د سترګو تر وړاندې څرګندېږي.

دا رنګه نور هم ګڼ شمېر تمثالونه د ښاغلي په تخلیقونو کښې وجود لري کوم نه چې د هغه د تمثال نګارۍ یا امیج سازۍ فني معیار په ګوته کېږي . خو ددې سره سره د هغه په فکر او فن دواړو د رومانویت رنګ هم په یو شکل کښې غالب ښکاري ځکه د نورو خوبیو او فني ځانګړنو سره سره دغه تخلیقونه د فطرت نګارۍ منظرونه هم پېش کوي لکه یو دوه تمثالي نمونې ئې دا رنګه دي:

د زړۀ پـــه دشـــتو مـــې ســـیلۍ د ببلتانـــه الـــوزي
لکــه خوشــبو چــې خورېــدې ماتــه دې ولــې نــۀ وې[47]

د محبـــت پـــوخ شـــوے فصـــل رانـــه اورژېـــدو
زړۀ مـې خـوربېږي خـو لـو لـور تـه مـې هـم زړۀ نـۀ کېـږي[48]

لکه څنګه چې مونږ وړاندې ذکر اوکړو چې د سمندر صېب په تخلیقونو د نورو فکري اړخونو سره سره د رومانیت هم ډېر جوت اثر دے . او هغه ټول خاصیتونه لري کوم چې د رومانیت خاصه ده . هم دغه خاصیتونو کښې د فطرت نګارۍ نه پس په فکري حواله یو اړخ عشقیه مضامین هم دي چې د سمندر صېب ګڼ شمېر غزلې او شعرونه د دغه فکر ترجماني کوي. لکه دلته ئې دخپلو داخلي وارداتو اظهار دې تمثالونو کښې دا رنګه کړے دے :

ستا سترګو کښې زور شته خو نشته دم زما په زړۀ کښې
غـم مـۀ کـوه مسـکے اوسـي سـتا غـم زمـا پـه زړۀ کښـې

هـــم دغســـې بـــه عمـــر لـــه تېـــو کېږي ســـتا یادونـــه
چـې لـرې وتـره هـم وي لـږ شـان نـم زمـا پـه زړۀ کښـې[49]

یعنې د سمندر صېب په کلامونو کښې د نورو خوبیو سره سره د هغه ځانله یو جدا رومانوي رنګ هم د هغه د ځانګړې اسلوب رغولو سبب ګرځېدلے دے. که څو هم ښاغلے د دې جدید دور شاعر او لیکوال دے خو د جدیدیت، ازاد خیالۍ/ روښان فکرۍ سره سره دکلاسیکیت، حقیقت پسندۍ او ترقي پسندۍ هم ګڼ شمېر تمثالونه د هغه د تخلیقونو حصې دي. ولې مونږ ئې په فکري توګه په یو ځانله جدا فکر پورې نۀ شو تړلے خو د

تخلیقونو نه ئې بربښي چې د نورو مضامینو نۀ څو چونده سېوا برخه ئې په کلامونو کښې د خپل درد مند زړۀ او د خپل زپلي شوي قام کړې ده ـ ځکه مونږ وئیلے شو چې ښاغلے سمندر یوسفزے که یو اړخ ته په فني توګه د لفظي تصویر سازۍ فن کار دے او مونږ ئې د تمثال کارو په ټل کښې شمېرو نو بل اړخ ته ئې مونږ د رومانویت او قامي علمبردارو په هغه صف کښې هم ودرولے شو کوم چې ددغه فکرونو مبلغان دي ـ

# حوالې


1. عابد، سید عابد علی، اسلوب ،سنگ میل پبلي کیشنز،لاهور، صفحه: ۴۲
2. کمال، محمد اشرف،ڈاکٹر ،لسانیات اور زبان کی تشکیل،مثال پبلشرز،رحیم سنٹر، پریس مارکیٹ،امین پور بازار، فیصل اباد، صفحہ:۲۰۵
3. خټک، فضل میر، پروفیسر، فضلیات ، اعراف پرینټرز محله جنګي پېښور ،دویم اشاعت ، ۲۰۲۰ ء، مخونه، ۹۲،۱۹۱
4. ازفر،عمران، نئ اردو نظم نئ تخلیقی جهت(نظمیہ تمثال:فکری و نظری تناظر)،پورب اکادمی اسلام اباد، طبع اول جنوری۲۰۱۳، صفحہ:۳۴
5. هم دغه اثر، مخ: ۳۹،۳۸
6. اعظمی،منظر، اردو میں تمثیل نگاری،انجمن ترقی اردو (هند) نئ دلی، ثمر افسٹ پرینٹر،نئ دلی،1992ء صفحہ:۶۴،۶۳
7. اعظمی،منظر، اردو میں تمثیل نگاری، صفحہ:۶۴
8. ازفر، عمران ،نئ اردو نظم نئ تخلیقی جهت(نظمیہ تمثال:فکری و نظری تناظر)، صفحہ:۳۱
9. A Dictionary of literary terms and literary theory, fifth edition , a john wiley & sons, ltd, publication .pag:354
10. Homa nath Sharma paudyal , the use of imagery and its significance in literary studies , the outlook journal of English studies, volume 14 july 2023 ,pag:114,115
11. A Dictionary of literary terms and literary theory, .pag:354
12. سحر، محمد روئیدار، د رحمت شاه سایل د غزل استعاراتي نظام، ایم فل مقاله، پښتونخوا مطالعاتي مرکز ، باچا خان پوهنتون، چارسده، سېشن، ۲۰۲۰ء- ۲۰۲۱ء، مخ: ۲۲۴

13. هم دغه اثر، مخ:۲۲۳

14. هم دغه اثر، مخ:۲۲۵

15. هم دغه اثر، مخ:۲۲۰

16. هم دغه اثر، مخ:۲۲۲

17. هم دغه اثر، مخ:۲۲۲

18. هم دغه اثر، مخ:۲۲۲

19. هم دغه اثر، مخ:۲۲۱

20. ډاکټر سمندر یوسفزے سره مرکه، نېټه ۲۹ فروري ۲۰۲۴ء، وخت، ماسپخین دوه بجې، ځائے د هغوي دفتر، پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون۔

21. ډاکټر سمندر یوسفزے سره مرکه، نېټه ۲۹ فروري ۲۰۲۴ء، وخت، ماسپخین دوه بجې، ځائے د هغوي دفتر، پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون۔

22. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه،عامر پرنټنګ ایجنسي پېښور، اکتوبر ۲۰۱۳ء، مخ: ۳۸

23. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه، مخ: ۱۰۵

24. هم دغه اثر، مخ:۸۸

25. هم دغه اثر، مخ:۳۲

26. هم دغه اثر، مخ:۲،۴۲

27. هم دغه اثر، مخ:۳۵

28. یوسفزے، سمندر، ډاکټر،د لونګو رشې،کتاب محل پبلشرز پېښور، ۲۰۲۲ء، مخ:۴۷

29. هم دغه اثر، مخ:۲۷

30. هم دغه اثر، مخ:۱۵۷

31. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه، مخ:۴۱

32. هم دغه اثر، مخ:۴۳

33. یوسفزے، سمندر، ډاکټر،د لونګو رشې، مخ:۷۴

34. هم دغه اثر، مخ:۹۴

35. هم دغه اثر، مخ:۲۱

36. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه، مخ:۸۳

37. هم دغه اثر، مخ: ۱۰۷

38. یوسفزے، سمندر، ډاکټر،د لونګو رشې، مخ:۵۴

39. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه، مخ:۷۲

40. هم دغه اثر، مخ:۲۷

41. یوسفزے، سمندر، ډاکټر،د لونګو رشې، مخ:۷۴

42. هم دغه اثر، مخ:۷۴

43. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه، مخ:۴۱

44. هم دغه اثر، مخ:۴۱

45. هم دغه اثر، مخ:۳۵

46. یوسفزے، سمندر، ډاکټر،د لونګو رشې، مخ:۸۸

47. یوسفزے، سمندر، ډاکټر، خیالونه چینارونه، مخ:۱۳۸

48. هم دغه اثر، مخ:۲۵

49. هم دغه اثر، مخ:۳۷

1.